د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

ګڼه: 390

(15-21 اسد 1401 هـ ش)

# په تایوان کې د چین او امریکا تقابل او د نړیوال نظم راتلونکی



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

په تایوان کې د چین او امریکا تقابل او د نړیوال نظم راتلونکی ........................................ 3
- سریزه ........................................ 3
- د چین او تایوان د شخړې اصلي ریښه ........................................ 4
- آیا امریکا به د تایوان ترځنګ پاتې شي؟ ........................................ 5
- که چین پر تایوان برید وکړي، نړیوال نظم به له منځه ولاړ شي؟ ........................................ 8
- افغانستان د جګړې ډګر که له یاده وتلې جزیره؟ ........................................ 9
- پایله ........................................ 10

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# په تایوان کې د چین او امریکا تقابل او د نړیوال نظم راتلونکی

## سریزه

د تایوان مسئلې ته له یوه تاریخي لید سره ګورو چې دې جزیرې د تاریخ په اوږدو کې خورا پېچلی او له لوړو ژورو ډک سیاسي وضعیت او برخلیک لرلی دی. د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې د جاپان پر وړاندې د چین د امپراتورۍ له ماتې وروسته، دا جزیره شاوخوا نیمه پېړۍ (۱۸۹۵-۱۹۴۵) د دویمې نړیوالې جګړې تر پایه د جاپان په ولکه کې وه. مګر د تایوان اوسنۍ کړکېچ په ۱۹۴۵م کال کې په چین کې د نشنلیستانو او کمونیستانو ترمنځ د کورنۍ جګړې له امله رامنځته شو؛ ځکه کمونیستانو میدان وګاټه او د حاکم نشنلیست ګوند ځواکونو د تایوان جزیرې ته شاتګ وکړ. همدا شاتګ د دې لامل شو چې چین پر دوو هېوادونو (د چین د خلکو جمهوریت) چې د کمونیزم تر بیرغ لاندې د چین پر اصلي ټاټوبي واکمن و، او (د چین جمهوریت) چې پر تایوان او ورسره تړلو نورو کوچنیو جزیرو واکمن و، ووېشل شي.

د چین جمهوریت (د تایوان رسمي نوم) د سړې جګړې په لومړیو کې د ډېری لوېدیزو هېوادونو له لوري د چین د یوازېني مشروع دولت په توګه په رسمیت پېژندل کېده او هم د ملګرو ملتونو د نړیوال سازمان بنسټګر غړی او تر ۱۹۷۱م کال پورې د امنیت شورا دایمي غړی و. خو کله چې د چین د خلکو جمهوریت په رسمیت وپېژندل شو، په ملګرو ملتونو کې د چین چوکۍ همدغه هېواد ته ورکړل شوه، او هم امریکا چې هغه مهال د تایوان اصلي ملاتړی هېواد و، په ۱۹۷۹م کال کې له تایوان سره خپلې اړیکې پرې کړې او د واحد چین اصل یې ومانه. د چین د خلکو جمهوریت؛ د تایوان په برخه کې د "واحد چین" اصل د خپلې مهمې ستراتیژۍ په توګه پر مخ وړي او حتی خپلې دغې ملي موخې ته د رسېدو او د تایواني چارواکو د قانع کولو لپاره یې "د یو هېواد او دوه نظامه" اصل هم مطرح کړی دی. اوسمهال یوازې ۱۳ هېوادونه تایوان د یوه خپلواک هېواد په توګه په رسمیت پېژني، ځکه چین پر نورو هېوادونو خورا زیات دیپلوماتیک فشار واردوي ترڅو د تایوان په رسمیت پېژندلو یا بل هر هغه اقدام څخه ډډه وکړي چې د خپلواک هېواد په توګه د تایوان په رسمیت پېژندلو په معنا وي.

دغه لنډې مخینې ته په کتلو سره، د تایوان پر سر د چین او امریکا تقابل ۷۰ کلنه مخینه لري. مګر دا اوسنۍ نانډرۍ هغه وخت پیل شوې چې د امریکا د متحده ایالاتو د استازو جرګې مشرې نانسي پلوسي د ۲۰۲۲م کال د اګست پر دویمه د بیجېنګ له ګوت څنډنې سره سره د تایوان پلازمېنې تایپه ته پر یوه دیپلوماتیک سفر ولاړه. له دغه سفر


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

وړانديې د چين ولسمشر خپل امريکايي سيال ته د يوې تليفوني مکالمې پر مهال خبرداری ورکړی و، چې د تايوان په موضوع کې له اور سره لوبې ونه کړي. نانسي پلوسي له ۱۹۹۷م څخه راوروسته د امريکا تر ټولو لوړرتبه چارواکې ده، چې تايوان ته سفر کوي. چين دا سفر پاروونکی وباله او د تايوان جزيرې شاوخوا يې پوځي مانورونه پيل کړل. له دغو مانورونو وروسته د تايوان دفاع وزير وويل چې چين پر تايوان د بريد تياری نيسي.

د تايوان پر سر د روانو ناندريو سيمه‌ييزو او نړيوالو اغېزو او د دې قضيې اهميت ته په کتلو سره، په دې مقاله کې پر لاندې موضوعاتو بحث شوی: د چين او تايوان د شخړې اصلي ريښه څه ده؟ ايا د امريکا متحده ايالات به د تايوان ترڅنګ ودرېږي؟ ايا پر تايوان باندې د چين د بريد په صورت کې به نړيوال نظم له منځه ولاړ شي؟ او بالاخره، افغانستان به په دې لوبه کې د سيالۍ ډګر وي او که به د يوې متروکه جزيرې په توګه مطرح وي؟

## د چين او تايوان د شخړې اصلي ريښه

له تاريخي پلوه او د تېرو څو پېړيو تاريخ ته په کتلو، د تايوان جزيره د چين يوه برخه پاتې شوې ده. کله چې په دې جزيره کې د هسپانويانو او هالنډيانو اشغال پای ته ورسېد، د منچو امپراتورۍ په ١٦٨٣م کال کې تايوان د خپلې امپراتورۍ برخه او د چين يو ولايت وګرځاوه. ورپسې زيات شمېر چينايان تايوان ته کډوال شول. په ١٨٩۵م کې وروسته له هغه چې چين له جاپان څخه ماتې وخوړله، تايوان هم د جاپان پر يوه مستعمره بدل شو او د دويمې نړيوالې جګړې تر پايه يې دا جزيره په کنټرول کې وه؛ خو بالاخره په ١٩۴٣م کې د قاهرې په کنفرانس کې هوکړه وشوه چې تايوان او نورې اړوندې اشغالي سيمې بېرته چين ته ورکړل شي او په دې توګه د ١٩۴۵م کال د اکتوبر په ٢۵مه جاپان په رسمي توګه تايوان د چين مرکزي جمهوري حکومت ته ورتسليم کړه.

د چين د داخلي تحولاتو له اړخه بيا کله چې دا جزيره د جاپان تر واکمنۍ لاندې وه، په ١٩١١م کې د دغه هېواد د امپراتور پر ضد پاڅون رامنځته شو چې د ده په نسکورېدو او د (چين جمهوريت) په منځته راتګ سره يې پای وموند. د چين جمهوريت بيا تر ١٩۴٩م پورې د چين پر خاوره واکمني لرله چې په وروستيو کلونو کې يې د تايوان جزيره هم په خپله واکمنۍ رانغاړله. د تايوان د کړکېچ ريښه همدغه کال (١٩۴٩) ته ورګرځي کله چې د چين د کمونيست ګوند مشر مائو زدونګ د «د چين د خلکو جمهوريت» بنسټ کېښود. د پرځول شوي دولت د مشر چيانګ کای‌شک تر مشرۍ لاندې د دغه هېواد نشنليستان يا کومينتانګ (KMT) د تايوان جزيرې ته وتښتېدل او هلته يې «د چين جمهوريت» جوړ کړ. د چين جمهوريت او نشنليستانو ټينګار کاوه، چې همدوی د چين اصلي د ټولې خاورې اصلي استازي دي او د چين د خلکو جمهوريت کمونيستي حکومت مشروعيت نه لري.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د چين او تايوان په شخړه کې يوه بنسټيزه مسئله، په دې قضيه کې د امريکا رول دی. کله چې په ۱۹۴۹م کې جنرال چيانګ کای شک په کورنۍ جګړه کې ماتې وخوړه او دې جزيرې ته وتښتيد، هلته يې د امريکا په مرسته د چين ملي حکومت جوړ کړ او امريکا هم د کمونيست چين په مقابل کې د چين د ملي حکومت شتون تضمين کړ. د چين ملي حکومت پر ټول چين د مالکيت دعوه کوله او د امريکا په ملاتړ يې د ملګرو ملتونو په نړيوال سازمان کې هم د چين څوکۍ ترلاسه کړې وه. مګر په ۱۹۷۱م کال کې چين ته د امريکا د هغه وخت ولسمشر (ريچارد نيکسون) له سفر سره، امريکا له لوی چين سره پر خپلو اړيکو بياکتنه وکړه او په ملګرو ملتونو سازمان کې يې هم د دغه هېواد د غړيتوب او د تايوان ايستلو ته زمينه برابره کړه. ورو ورو تايوان د امريکا ملاتړ له لاسه ورکړ، تر دې چې په ۱۹۷۹م کې امريکا له تايوان سره خپلې اړيکې پرې کړې او بالاخره څه موده وروسته د چين مشر شيائوپينګ اعلان وکړ، چې تايوان د چين برخه او په چين پورې اړه لري. له دې سره سم تايوان له سخت سياسي بحران سره مخ شو او له تايوان سره هر راز راکړه ورکړه ممنوع اعلان شوه.

اوس هم د چين او تايوان ترمنځ د ناندريو او دغې شخړې د بيا تازه کېدو اصلي لامل په دې قضيه کې د امريکا رول دی. انګېرنې دا دي، چې په امريکا کې د عامه افکارو او د دغه هېواد د دوو اصلي ګوندونو ترمنځ د تايوان د ملاتړ سياست د اړوند ګوند لپاره د ښه چانس شونتيا له ځان سره لري او اغلې پلوسې هم د دموکرات ګوند هغه لوړپوړې غړې ده، چې له پخوا راهيسې د چين د اوسنۍ رهبرۍ کلکه منتقده ګڼل کېږي. په ورته وخت کې، په تايوان کې دننه هم د دغه هېواد د بهرني سياست په اړه د نظرونو اختلاف شته دی. واکمن ديموکرات ګوند (DDP) په خپل بهرني سياست کې د امريکا لورې ته تمايل لري، خو د تايوان نشنليستان (KMT) بيا په دې اند دي، چې امريکا به له تايوان سره څه مرسته ونه کړي. همدا لامل دی، چې تايوان ته د امريکا د استازو جرګې د مشرې له سفر وروسته، د دغه ګوند مرستيال چين ته د سفر تابيا وکړه.

## آيا امريکا به د تايوان ترخنګ پاتې شي؟

د تايوان په اړه د امريکا سياست له هماغه پيله د «ابهام پر ستراتيژي» ولاړ دی؛ امريکا له يوه لوري د «واحد چين» سياست مني، چې له مخې يې تايوان د چين يوه برخه ګڼل کېږي؛ او له بل لوري ټينګار کوي چې د تايوان سياسي او دموکراتيک جوړښت او د دغې کورواکې جزيرې د حکومتولی بڼه بايد د بيجېنګ له لوري له ګواښونو او لاسوهنې خوندي وي. په ورته وخت کې، سره له دې چې امريکا له تايوان سره خپلې اړيکې "پياوړې او نارسمي" بولي مګر خپلې رسمي اړيکې د چين له لارې مخته وړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په وروستیو کلونو کې، د امریکا پخواني ولسمشر دونالد ترامپ په ۲۰۱۷م کې پر تایوان د وسلو د یوې سترې محمولې د پلورلو جواز لاسلیک کړ. یوازې یو کال وروسته بیا په امریکا کې یو داسې قانون هم تصویب شو چې موخه یې د امریکا-تایوان د اړیکو ټینګښت وه. په ۲۰۱۹م کې د چین ولسمشر شي جین پینګ ګواښ وکړ چې د تایوان بېرته ترلاسه کولو به زور او ځواک هم وکاروي. نوموړي همداراز د امریکا له لوري په تایوان باندې د وسلو د خرڅلاو په اړه هم وویل، چې امریکا دې «له اور سره لوبې» نه کوي.

د امریکا اوسني ولسمشر جو بایدن هم د ۲۰۲۱م کال د اکتوبر په میاشت کې وویل: د چین له لوري پر تایوان د برید په صورت کې یې هېواد له تایوان څخه پوځي دفاع ته چمتووالی لري. هغه زیاته کړه چې چین د تایوان پر سر شخړه کې له «خطر» سره لوبې کوي. د جو بایډن دا څرګندونې د تایوان په هکله د امریکا د «ابهام ستراتیژی» یعنې د واشنګټن له زاړه سیاست سره په ټکر کې وې. له دې سره سره، سپینې ماڼۍ د جو بایډن له څرګندونو وروسته ټینګار وکړ، چې د تایوان په اړه د واشنګټن په سیاست کې بدلون نه دی راغلی.

له دغو تحولاتو وروسته، د تایوان ولسمشرې هم د لومړي ځل لپاره له ۱۹۷۹م راوروسته په دې جزیره کې د امریکا د پوځي حضور په هکله خبرې وکړې. د تایوان په اړه د امریکا تګلاره، چې ځینې شارونکي د معاملې د یوه کارت په سترګه ورته ګوري، د امریکا لپاره بنایي ډېره سنجول شوې نه وي، ځکه تایوان د چین سره کرښه ده او امریکا هم په دې پوهېږي مګر تل یې له دې موضوع داسې ګټه اخیستې ده چې له لارې یې په پاسیفیک حوزه کې خپل حضور توجیه کړي او د یوه ګواښونکي عنصر په توګه یې ځینې هیوادونه لکه جاپان، سویلي کوریا او استرالیا د ځان ملګري کړي دي. په داسې حال چې امریکا پوهیږي او دا توان هم نه لري چې یوې نړیوالې جګړې ته ننوځي مګر تل یې دا موضوع د یوې مرکزي او ارزښتناکې مسئلې په څېر پاللې ده.

پر اوکراین د روسیې له برید او د امریکا او لویدیځې نړۍ له لوري د روسیې په مقابل کې له اوکراین څخه له پراخ ملاتړ وروسته، د چین او تایوان قضیې هم د نړیوالو پام ځانته واړاوه او حتی داسې بحثونه هم راپورته شول چې پر اوکراین د روسیې له یرغل وروسته ممکن چین هم پر تایوان برید وکړي. دا په داسې حال کې ده چې د اوکراین او تایوان ترمنځ ځینې شباهتونه او تفاوتونه شته دي.

دغه ورتهوالي یا شباهتونه په لاندې درېو برخو وېشلای شو:

**لومړی:** د نظامي ځواک له پلوه د اوکراین او روسیې په څېر د چین او تایوان تر منځ هم ډېر لوی توپیر شته دی. او دا توپیر کال تر بله په زیاتیدو هم دی.

**دويم:** اوکراين او تايوان دواړه په رسمي توګه نظامي متحدين نه لري. او دواړه مجبور دي چې د نظامي ګواښونو په مقابل کې په يوازې ځان مقابله وکړي.

**دريم:** دا چې روسيه او چين دواړه د ملګرو متلونو سازمان د امنيت شورا دايمي غړي دي او د ويټو حق لري، نو ځکه په دغو شخړو کې د ملګرو ملتونو د سازمان پر منځګړيتوب هم باور نشي کيدای.

بل لوري ته، د تايوان او اوکراين په قضيو کې شته توپيرونه هم په دريو برخو ويشلای شو:

**لومړی:** د تايوان چارچاپېره وضعيت تر ډېره ناآرامه دی او هېڅ متحد هم نه لري، مګر د يوه داسې ځانګړي قانون څښتن دی، چې له مخې يې امريکا له ۱۹۷۹م کال څخه راپدېخوا ملزمه کړې چې تايوان ته نظامي تجهيزات ورکړي چې «د تايوان لپاره د خپل دفاعي ظرفيت د ساتنې په برخه کې بسنه کوي». دا قانون په يو ډول د امريکا له لوري په ښکاره توګه د دې نه ويلو چې پر تايوان د پوځي بريد په صورت کې به له «تايوان څخه دفاع کوي» د غرامت په توګه مطرح دی.

**دويم:** د اوکراين او روسيې د جګړې په هکله په هماغه پيل کې امريکا وويل چې خپل پوځي ځواک به له اوکراين څخه د دفاع لپاره ونه کاروي. مګر کله چې خبره تايوان ته رسېږي، هلته بيا امريکا د ستراتيژيک ابهام سياست غوره کړی. لا تراوسه دا نه ده څرګنده چې امريکا به په نظامي توګه په هغه کړکيچ کې مداخله وکړي کنه، کوم چې تايوان ګواښي؟ دا چې امريکا ترجيح ورکوي چې پر تايوان د بريد په صورت کې د خپل دريځ څرګنوالی ناڅرګند پريږدي، ځکه نو چين مجبور دی چې په دې مسئله کې د نظامي ځواک پر کارولو لا زيات غور وکړي. له همدې کبله د چين واکمنان بايد د امريکا د نظامي مداخلې شونتيا په نظر کې ونيسي. په ورته وخت کې، د متحده ايالاتو ابهام، تايوان هم مجبور کړی چې د امريکا د نظامي مداخلې امکان په نظر کې ونيسي. امريکا له څو لسيزو راهيسې د چين او تايوان په اړه خپل څو اړخيزه سياست ساتلی دی.

**دريم:** د تايوان او اوکراين بنسټيز توپير دا دی چې اوکراين په نړيواله کچه يو خپلواک هېواد دی، مګر تايوان داسې نه دی. دا توپيرونه رابښيي چې اوسمهال امريکا بايد پر خپله تګلاره بيا غور وکړي. د امريکا لرليد روښانه لرليد نه دی، سره له دې چې امريکا تل د جګړې له عنصر څخه د داخلي انسجام ساتلو په موخه ګټه اخيستې، مګر موږ د نړيوالو بدلونونو په يوه داسې موړ کې يو چې په زړه نسخه به نوې درملنه اغېزناکه نه وي، او د اوکراين په هکله هم دا موضوع ثابته شوه چې امريکا د جګړې دوام د روسيې او چين ملا ماتولو په موخه غواړي، نه د اوکراين او تايوان د برياليتوب په موخه. چين هم د روسيې په څېر ځواکمن برخورد کوي او امريکا بيا په هغه موقف کې هم نه ده چې په اوکراين او تايوان کې جګړه په خپله خوښه مديريت کړای شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## که چین پر تایوان برید وکړي، نړیوال نظم به له منځه ولاړ شي؟

امریکا اوسمهال د روسیې او اوکراین جګړه او پر تایوان د چین د مالکیت قضیه له نړیوال نظم څخه د سرغړونې پر دوو عناصرو بدلې کړې دي. امریکا په دوو جغرافیوي حوزو کې د دوو سیمه‌ییزو او نړیوالو زبرځواکونو سره داسې تړون کړی و: په ۱۹۹۰م کال کې له مسکو سره (د ختیځې اروپا لوري ته د ناټو نه پرمختګ)، او په ۱۹۷۹م کې له بیجېنګ سره (د واحد چین سیاست). ناټو د واشنګټن د ژمنې خلاف د روسیې دروازو ته ځان ورساوه. اوسمهال د روسیې ختیځه دروازه په بشپړه توګه د ناټو په کنترول کې ده. دویمه ژمنه هم تلویحا له منځه تللې خو تراوسه یې په رسمي ډول اعلان نه دی شوی. امریکا په ۱۹۷۹م کې د واحد چین سیاست له بیجېنګ سره په دریو ګډو او رسمي اعلامیو کې په رسمیت وپېژانده او له تایوان سره یې خپلې اړیکې پرې کړې. د واحد چین اصل په دې معنا دی، چې د تایوان جزیره  په چین پورې تړلې او د بیجېنګ د واکمنۍ برخه ده. امریکا هغه مهال د شوروي او چینایي کمونیست ګوندونو ترمنځ د واټن رامنځته کولو په موخه بیجېنګ ته ځان نژدې کړ. همدا علت دی چې د شوروي له پاشل کېدو وروسته امریکا د واحد چین اصل ته شا کړه او له تایوان سره یې په اړیکو رغولو له سره پیل وکړ. چین پر دې باور دی، چې تایوان ته د نانسي پلوسي وروستی سفر د چین او امریکا پر اړیکو ژورې اغیزې کوي او د چین د حاکمیت حق او ځمکنۍ بشپړتیا په شدت سره تر پښو لاندې کوي، مګر په ټوله کې داسې نه برېښي، چې د چین او تایوان شخړه دې په دې نژدې وخت کې پر یوې بشپړې نظامي جګړې تبدیله شي. څارونکي پر دې باور دي، چې په اوسنیو شرایطو کې جګړه ممکن د چین په ګټه نه وي او د چین له لوري وروستي پوځي مانورونه هم د نانسي پلوسي د سفر په ممانعت کې د دغه هیواد د پاتې راتلو اړوند د خپلې داخلي ابرو ساتلو او غوسې د تعادل په موخه ترسره شول.

د نړیوال نظم تیوریو او د نړیوال نظم د ځواک او جوړښت اړوند د نیو ریالیستانو نظریې ته په پام، د زبرځواکونو ترمنځ د ځواک پرسر سیالي یوه دوامداره چاره ده، چې د ځواک د موازنې (تدافعي ریالېزم) په چوکاټ کې او د هژمونیک موقعیت لاسته راوړلو (تهاجمي ریالېزم) په چوکاټونو کې ظاهرېږي. دا چې د زبرځواکونو رفتار او ګټې اصلاً د نړیوالو بنسټونو له لوري د تشخیص او کنترول وړ نه دي، نو په آسیا-پاسیفیک کې د ځواک پر سر د امریکا او چین د سیالۍ ماهیت له سیمه‌ییزوالي څخه وباسي او نړواله مسئله ترې جوړوي، ځکه نو شته سیمه‌ییز مکانیزمونه سره له دې چې ځینې یې هر اړخیز هم دي نشي کولای چې د دغو دو زبرځواکونو سیالي قابو کړي. دویم دا چې د دغو دواړو سیالۍ پر سیمه‌ییزو سیاسي-امنیتي مسائلو هم سیوری غوړولی او د یادو زبرځواکونو د ملاحظاتو په پام کې نیولو پرته د هغوی حل او فصل هم ستونزمن دی. دریم دا چې چین او امریکا یو بل ته د بنسټي او جوړښتي سیالانو په سترګه ګوري.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د بنسټي سيالانو معنا دا ده چې د دوی دواړو ايډيولوژيک، اقتصادي او سياسي نظامونه له يو بله توپير لري او جوړښتي سيال په دې معنا چې دواړه په نړيواله سطحه د زبرځواک په توګه د نړۍ د لومړي مقام ګټلو لپاره له يو بل سره سيالي کوي. همدا لامل دی، چې د دوی دواړو ترمنځ د مسائلو هواری هم آسانه نه دی. څلورم دا چې پورته واقعيتونو ته په کتو سره به په راتلونکې کې نړۍ عملاً د چين او امريکا په ځانګړې توګه د آسيا-پاسفيک له مرکزيت سره پر دوو داسې قطبونو ووېشل شي، چې جلا سياسي او فکري پيروان به لري، او د سړې جګړې د وخت په څېر به د ځواک دوه قطبي موازنه رامنځته شي. په دغه راز شرايطو کې به سيمه‌ييز او نړيوال بنسټونه د سړې جګړې د دوران په څېر حاشيوي رول لوبوي.

بل پلو ته، روسيه، چين او ايران د امريکا د جيوپوليټيک نفوذ د کمولو ګډه موخه ځاري. ځکه نو د چين او تايوان شخړې او د روسيې او اوکراين د جګړې په اړه د سيمه‌ييزو قدرتونو له غبرګونونو داسې ښکاري، چې دا سيالۍ به بالاخره د ختيځو قدرتونو د اتحاد په هکله د برژينسکي (د امريکا د بهرنيو چارو پخوانی وزير) وړاندوينه رښتيا کړي.

## افغانستان د جګړې ډګر که له ياده وتلې جزيره؟

د يوې مهمې سيمه‌ييزې مسئلې په توګه د تايوان د شخړې شدت به پرته له شکه د افغانستان پر وضعيت هم اغيز ولري. اسلامي امارت له چين سره نژدې اړيکې لري او له افغانستان څخه د امريکايي او ناټو ځواکونو له بشپړ وتلو وروسته چين او طالبان بو بل ته نژدې شوي دي. اسلامي امارت چين ته د يوه داسې ځواکمن ګاونډي په سترګه ګوري چې په افغانستان کې په سترو پانګونو کې لېوالتيا لري. همدا لامل و، چې تايوان ته د نانسي پلوسي د سفر او د چين او امريکا د اړيکو د خرابوالي په اړه د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت په خپله خپره کړې اعلاميه کې په نامستقيمه توګه امريکا ته وويل چې هيوادونه بايد له پاروونکو کړنو ځانونه وساتي. د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت وياند په يوه ټويټ کې د «واحد چين» پر اصل ټينګار وکړ او له ټولو هيوادونو يې وغوښتل چې له داسې کړنو ډډه وکړي چې د ملکونو د ملي حاکميت تر پښو لاندې کول ګڼل کيږي او نورو پاروونکو کړنو ته لار هواروي. اسلامي امارت ټينګار کړی چې د چين او امريکا اړيکې د سيمې پر امنيت او ثبات اغيز لري او افغانستان غواړي چې دا شخړې د خبرو اترو او مناسبو لارو چارو له لارې هوارې شي.

په ټوله کې اړتيا ده چې د چين او امريکا په سيالۍ کې د افغانستان ځای په لا ډېر دقت سره بحث شي، ترڅو وکړای شو چې د ملي ګټو پر بنسټ او د يوه ملت او جغرافيې په حيث، په دغه ځو اړخيز او پېچلي بحران کې د افغانستان د ثبات په اړه پيش‌بين وو.

لکه څرنګه چې د اوکراین له جګړې د تایوان تر شخړې پورې د سیمه‌ییزو او نړیوالو لانجو له څرنګوالي څخه معلومېږي، د تایوان پرسر اوسنۍ شخړه چې امریکا او چین یې اصلي لوبغاړي دي، افغانستان د دغو دواړو زبرځواکونو په بهرني سیاست کې ارزښتناک ځای لري. سره له دې چې اوسمهال افغانستان د دغه هېواد د داخلي مسائلو له اړخه سیمه‌ییزو او نړیوالو ځواکونو ته ارزښت لري، مګر د تاریخ په اوږدو کې دغه هېواد ته د هغه د جغرافیوي موقعیت له کبله تل سترګې ور اوښتې دي. افغانستان په تیر کې د حائل (د زبرځواکونو د ټکر مخه نیوونکی) هیواد په توګه او اوس د بری بوزان په قول د عایق (د زبرځواکونو ترمنځ د سیالۍ د عامل) هیواد په توګه ارزښت لري. څکه نو نن سبا افغانستان د نړیوالو او سیمه‌ییزو قدرتونو په سیاستونو کې د خپل حیاتي رول له کبله په جګړه‌ییزو سیالیو کې د یوه اغېزناک عامل په توګه په جدي توګه تر پام لاندې دی.

له بده مرغه ترڅو چې افغانستان ته په همدې سترګه کتل کیږي، په دغه هیواد کې دایمي ثبات ستونزمن دی. څکه چې په افغانستان کې د زبرځواکونو د چلند مبنا سیالي ده نه همکاري، او دا سیالي د ورځې په تیریدو سره شدت پیدا کوي، په ځانګړې توګه کله چې د سیالۍ د ثقل مرکز یعنې آسیا-پاسیفیک او ختیځه اروپا افغانستان ته لا نژدې هم دي. په اوسني حساس وخت کې اړینه ده چې اسلامي امارت په پوره ځیرکتیا او د افغانستان د ملي ګټو په نظر کې نیولو سره، داخلي یووالي او یوځایوالي او همدارنګه په نړیواله کچه د بې‌پرې‌توب دیپلوماسۍ ته لومړیتوب ورکړي، ترڅو افغانستان یو ځل بیا د زبرځواکونو د سیالۍ پر ډګر بدل نه شي.

**پایله**

تایوان ته د امریکا د استازو د جرګې مشرې نانسي پلوسي له سفر وروسته، نه یوازې دا چې د چین او امریکا تر منځ شخړو زور اخیستی بلکه د دې جزیرې چارچاپیر د چین نظامي مانورونو ته په کتلو سره پر تایوان د چین د برید امکان هم شته، مګر اوسمهال ګومان داسې کېږي چې د چین او تایوان شخړه به لږ تر لږه په نژدې راتلونکې کې پر یوه بشپړه جګړه هم بدله نه شي.

مګر د نړیوال نظم په هکله اکثره څارونکي په دې اند دي چې که امریکا وغواړي که ونه غواړي نړۍ د څو قطبي کیدو په لور روانه ده او د سمیه‌ییزو جګړو لپاره پاروونکې کړنې به نړیواله غمیزه وزیږوي، چې د ډیرو په ګمان چین به د جګړې ګټونکی هم وي. څکه نو اړینه ده چې امریکا په نړۍ د واحدې ادارې فکر پریږدي، څکه چې یو قدرت په یوازې ځان نشي کولای نړۍ اداره کړي. د شوروي له ماتې وروسته د نړۍ وضعیت یو استثنائي حالت و، مګر پس له دې به په طبعي توګه په نړۍ کې متعدد قدرتونه موجود وي.

په دې سیالۍ کې د افغانستان د موقف په هکله ویلای شو چې افغانستان تر اوسه کوم مدَوَن بهرنی سیاست نه لري، مګر د اسلامي امارت له دریځونو داسې ښکاري چې دوی د بې پرې توب د پخوانۍ اصل له مخې په بهرني سیاست کې مخته ځي. سره له دې چې د امریکا په اړه هم د اسلامي امارت اوسنی سیاست د شخړو د نه شتون سیاست دی ترڅو د نړیوالې ټولنې له لوري په رسمیت پیژندنه کې د امریکا ممانعت هم راکم کړي؛ مګر د تایوان مسئلې ته په کتو سره د یادولو وړ ده چې اسلامي امارت باید چین ته دومره هم ور نږدې نشي چې د امریکا دښمني را وپاروي او یو ځل بیا د افغانستان له خلکو څخه په غچ اخیستلو پسې پښې رالوڅې کړي.

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**له موږ سره اړیکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +۹۳۷۹۸٦۴٦۴۰۱

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)